# لَا يَنْظُرُ الرَّجُلُ إِلَى عَوْرَةِ الرَّجُلِ، وَلَا الْمَرْأَةُ إِلَى عَوْرَةِ الْمَرْأَةِ

له ابو سعيد الخدري رضی الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: «لَا يَنْظُرُ الرَّجُلُ إِلَى عَوْرَةِ الرَّجُلِ، وَلَا الْمَرْأَةُ إِلَى عَوْرَةِ الْمَرْأَةِ، وَلَا يُفْضِي الرَّجُلُ إِلَى الرَّجُلِ فِي ثَوْبٍ وَاحِدٍ، وَلَا تُفْضِي الْمَرْأَةُ إِلَى الْمَرْأَةِ فِي الثَّوْبِ الْوَاحِدِ». «سړی به د سړي شرمګاه ته نه ګوري، او ښځه به د ښځې شرمګاه ته نه ګوري او نه دې يو سړی له بل سړي سره په يوه جامه کې ځان پټوي او نه دې يوه ښځه له بلې ښځې سره په يوه جامه کې ځان پټوي».

[صحيح] [مسلم روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم له دې منع فرمايلې ده چې يو سړی د بل سړي شرمګاه ته وګوري، يا دا چې يوه ښځه د بلې ښځې شرمګاه ته وګوري. عورت: هر هغه څه ته وايي چې د ښکاره کېدو پر مهال يې د شرم احساس کيږي او د سړي عورت د هغه د نوم او زنګنونو تر منځ دی، او ښځه د پرديو سړيو لپاره ټوله عورت ده او ښځو او نورو محارمو ته هغه ځايونه ښکارولی شي چې د عادت له مخې يې په کور کې ښکاره کوي. او رسول الله صلى الله عليه وسلم لدې منع فرمايلې ده چې يو سړی له بل سړي سره په يو لباس او يا د يوې برستنې لاندې بربنډ ننوځي او لدې چې يوه ښځه له بلې ښځې سره په يو څادر کې بربنډه ننوځي، ځکه دا د دې لامل ګرځي چې يو د بل عورت لمس کړي، پداسې حال کې چې له لمس کولو څخه يې منع راغلې ده، لکه څرنګه چې ورته له ليدلو څخه راغلې ده، بلکې لمس کول يې لاپسې په ټينګار سره منع شوي، او ځکه چې لدې څخه لوی فساد رامنځته کيږي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/8904

ALNAJAT CHARITY النجاة الخيرية
لجنة الدعوة الإلكترونية EDC E-Da'wah Committee